


## Hanau؟
## پاک دی!

په Hanauer ښار کې میشت
ګرانو آغلو او ښاغلو،

د ژوند وړ سیاره او یو پاک ښار مونږ ټولو لپاره مهم دی. او مونږ کولی شو په ګډه پدې اړه هره ورځ یو څه وکړو.

مونږ په هاناؤ کې د تصفیې او ریسایکل کولو (بیرته د استفادې وړ کرځولو) مختلف اختیارونه لرو. د کثافاتو له کڅوړو څخه د شنو کثافاتو راټولولو ځایونو پورې، د ریسایکل کولو مرکز پورې، ډیری اختیارونه شتون لري.
دا فلایر (توزیع پاڼه) تشریح کوي چې کوم کثافات کوم ځای سره تړاو لري او زمونږ د تصفیه کولو ځایونه چیرته دي.
ډیری شیان چې په کثافت دانۍ کې اچول کیږي کثافات ندي، بلکه د ارزښت وړ مواد دي چې ریسکایکل کیدی شي. د دې

کولو لپاره، دا مهمه ده چې دوی سره جلا کړو.
ماشومان کولی شي په اسانۍ سره د کثافاتو جلا کولو په اړه پوه شي کله چې دوی ته تشریح شي. خپلو ماشومانو ته تشریح کړئ چې کوم کثافات د کومې کثافت دانۍ مربوط دي او نورو ته یو

ښه مثال (رول ماډل) اوسئ.
مهرباني وکړئ برخه واخلئ او خپل کثافات سره جلا کړئ – د چاپیریال لپاره، د هاناؤ لپاره او د راتلونکي لپاره

په درنښت

**Isabelle Hemsley**
د ښاري شورا غړې
د Hanau

**Markus Henrich**
غړی د شرکت مدیر
ښار اختصاصي شرکت
د Hanau د زیربنا خدمتونه

**پوښتنې د خځلو او د هغو د دفع کولو اړوند ټولو موضوعاتو په تړاو لرئ؟**
**د پاتې شونو مشوره:**
**06181 295-566**



# پاتې شوني، خځلې، ریسایکل کیدونکي مواد

سطل پورې اړوند ټول موارد – مګر کوم سطل پورې اړوند؟



Brüder-Grimm-Stadt Hanau

## د پاکوالي ملاتړ کونکي

پخپله لاس په کار شئ، د خپلې سیمې، شنو ځایونو، د لوبو ډګرونو وغیره پاک ساتلو کې ملتیا وکړئ. د دې موخې لپاره لاس پیلې، د خځلو کونډې او د خځلو کڅوړې موږ تاسې ته وړیا درکوو. تاسو ته ښه راغلاست دی چې د سپي د میتازو کڅوړې تصفیه کونکي وکاروئ. یا ډکونکی د یوه ښکلي او پاک ښار لپاره

ټول معلومات په **sauberkeitspaten.hanau.de** کې



SAUBERKEITS|PATEN HANAU

Hanau Infrastruktur Service
Eigenbetrieb der Stadt Hanau
Abfallwirtschaft & Straßenreinigung

Hanau Infrastruktur Service
Eigenbetrieb der Stadt Hanau
Abteilung Abfallwirtschaft & Straßenreinigung
Abfallberatung
Daimlerstraße 5
63450 Hanau
Telefon: 06181 295-566
E-Mail: his-abfallberatung@hanau.de

Dieser Flyer ist $CO_2$-neutral gedruckt.

www.hanau.de

## د هرې خځلې ځای د سطل دننه ندی: د خځلو د دفع کولو مهم مرکزونه



### د موادو د ریسایکل مرکز
Daimlerstraße 5, 63450 Hanau
مثل:
زاړه او کارول شوي فلزات، سي ډي ګانې/ډي وي ډي ګانې، زاړه بریښنایی وسایل،
د وسایلو بیټریانې، تر 2 متر مکعب حجم لرونکې سترې خځلې، د وښو او ګیاه پاتې شوني تر 2 متر مکعب، د پنبې لرګی، کاغذ/کارتنونه، سپکې بسته بندۍ/سټیروفوم، تعمیراتي پاتې شوني او د کورونو د بیارغونې پاتې شوني تر 1 متر مکعب (د لګښت په تادیه کولو سره)





### د شنو خځلو ترلاسه کونکي مرکزونه
**د باغوانی او وښو پاتې شونو لپاره**
- Mittelbuchen *(Riedstr., alte Kläranlage)*
- Steinheim *(Offenbacher Landstr., altes Klärwerk)*
- Klein-Auheim *(Fasaneriestr., Kompostierungsanlage)*
- Großauheim *(Vosswaldestr., Waldfriedhof)*
- Wolfgang *(Vor der Pulvermühle 1)*
- Kesselstadt *(Burgallee, Parkplatz Hochgericht)*
- Lamboy/Tümpelgarten *(Parkplatz Tümpelgarten)*

### د ضرر لرونکي موادو راټولولو موټر
**د ځانګړي پاتې شونو او ضرر لرونکي موادو لپاره**
ترلاسه کول :
حلال موادو لرونکي رنګونه، رنګونه، نروب کونکي، کیمیاوي مواد، درمل، پاکوونکي مواد، اسیډونه، د سینګار لوازم، د وښو د ساتنې ځانګړي مواد او آفت وژونکي، غوړ او ګیاهي او حیواني غوړي



**اوسني کاري ساعتونه،**
**د ترلاسه کولو شرایط او**
**لاربښوونې په**
**www.hanau.de - د "Abfall" ټکی**
**(پاتې شوني) مومئ**

زوړ او کارول شوی کاغذ

## په نيلي سطل کې څه شی غورځول کیږي؟


- کاغذي پاتې شوني او قطۍ مقوا یا کارتن
- د نيلي سطل تشول په هرو څلور اونيو کې یو ځل
- په خیرې کولو او پلنولو سره کم ځای نیسي
- د خوړو پاتې شوني باید ورپسې نه وي
- د سطل څنګ ته ایښودل شوي کارتنونه وغيره نه وړل کیږي
- د ډیرې اړتیا په صورت کې د لنډ مهال لپاره د کاغذ لپاره ځانګړي کانټينرونو څخه کار واخلئ



د پلور بسته بندۍ

## په زیړ سطل کې څه شی غورځول کیږي؟

- یوازې د المونیم، ټینپلیټ، پلاستیک او مرکبو موادو څخه جوړې شوې بسته بندۍ خالي کړئ
- د زیړ سطل تشول په هرو څلور اونيو کې یو ځل
- قطۍ د نورو موادو څخه تشې کړئ، په اوبو کنګالول لازمي ندي. ټولې اجزاوې جلا کړئ، یو بل کې یې مه ګډوډوئ
- د ډیرې اړتیا په صورت کې د لنډ مهال لپاره د زیړو کڅوړو څخه کار واخلئ



بیو پاتې شوني

## په قهوه ای سطل کې څه شی اچول کیږي؟

- په کمپوست د بدلیدو وړ ارګانیک پاتې شوني
- د قهوه ای سطل تشول په هرو دوه اونيو کې
- د سطل دننه رطوبت یا لوندوالی د ورځپاڼې کاغذ، د پخلنځي کاغذ یا ارګانیک کڅوړو باندې چې کاغذي وي پاک کړئ
- پلاستیکي کڅوړې د ارګانیک پاتې شونو لپاره ځانګړي سطل کې مه اچوئ - حتی په "کمپوست د بدلیدو وړ" کڅوړې!




نه ریسایکل کیدونکي خځلې

## په تور سطل کې څه شی اچول کیږي؟

- هغه پاتې شوني چې نورو درې سطلونو کې د جلا کیدو وړ ندي
- د تور سطل تشول په اونیز ډول یا په دوه اونيو کې یوځل
- د بریښنایي وسیلو، خطرناکه موادو، مایع کثافاتو او هر هغه شي لپاره چې د لپاره یې د ټیک-بیک (-take back یا د شرکت لخوا د بیرته اخستلو او راټولو) سیستم موجود وي د پاتې شوو کثافاتو کثافت دانۍ ته مه ورځئ!

